# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Social | اجتماعی |
|---|---|

احمد شاه وردک – کابل

۲۶ اگست ۲۰۱۱

د(افغانستان آزاد-آزاد افغانستان) پورتال دخپلواکی غوښتونکو سنگر دی!

ترهرڅه دمخه درسنیو په آسمان کی دآزادی اوخپلواکی د ځلانده ستوری(افغانستان آزاد-آزاد افغانستان) دجوړیدو دریم تلین ددی ملی او انقلابی اوضد استعماری ویب پاڼی درنو چلونکو ته، دپاڼی قلمی همکارانو ته، په هیواد کی دننه اوبهر ټولو وطنپالو ځواکونو او دافغان مظلوم ملت ته دزړه له کومی مبارکی وایم اوپه دی هیله چی ټول هیواد وال پرته له توپیره او تړاوه په یوه داسی محور راټول شو چی هیواد دنیواکگرو له منگلو څخه وژغورو، دپر مختگ اوترقی لپاره لاره خلاصه کړو، په هیواد کی عدالت تأمین کړو او جنگی او اقتصادی جنایتکاران په یوه عادلانه ولسی محکمه کی محاکمه کړو، دهیواد هروګړی ته دهغه ټول حقوق ورکړو.

د"افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" پورتال د ملی او وطنی قلم په درلودلو سره په لنده موده کی دامپریالیزم دشومو موخو څخه پرده پورته کړی اوپه دی لاره کی دهیچا تر تاثیر اوسیوری لاندی ندی راغلی. ددی ملی پاڼی یوه بله ځانګړتیا دهغی ضدیت اونه پخلاکیدنه دهر ډول قومی ، لسانی، مذهبی اوعقیدتی تړاو او توپیرنو سره دی .

دلوی او ببنوونکی خدای څخه دویب پاڼی درنو چلوونکو اوقلمی همکارانو ته دروغتیااوبریالیتوبونو غوښتنه کوم!

په هیوادنی مینه او اخلاص

ستاسو همکار اوهم سنگره

احمدشاه وردگ-کابل